# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې ۲۱مه | د ۲۰۱۹ د فبرورۍ لسمه | دویم کال| ۳۳۲مه ګڼه


پوهنتون

۴ مخ

## اشنا د لوړو زده کړو موسسه

د دې موسسې علمي مرستیال وایي، دوی یوازې هغه کسان د استاد په توګه ګوماري، چې په اړوند برخه کې یې د زده کړو درجه تر لیسانس لوړه وي.




## سږ کال پر ۴۰ زره او پنځه سوه جریبه ځمکه باغونه جوړ شوي دي




د کرنې او مالدارۍ وزارت وایي، د باغدارۍ د سکټور د پیاوړتیا په هدف، په روان کال کې په ټول هېواد کې په څلوېښت زره او پنځه سوه جریبه ځمکه کې باغونه جوړ شوي دي. د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي پرون ازادي راډیو ته ویلي چې په دې کې د پستې، بادامو او چارمغزو باغونه شامل دي.

ښاغلي رستمي ویلي، پر دې سربېره دغه وزارت په بلخ، لغمان، کندوز او ننګرهار کې د ژر رسېدونکو مېوو باغونه هم جوړ کړي چې ښه حاصلات لري.

د رستمي په خبره، د ژر رسېدونکو مېوو له ډلې باغ لرونکو د شفتالو له درکه سږکال ۱۲۵ میلیونه افغانۍ عاید تر لاسه کړي دي.

د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، دوی په پام کې لري چې په ۱۳۹۸ لمریز کال کې په ټول هېواد کې په ۴۵ زره جریبه نوره ځمکه کې د مېوه لرونکو ونو باغونه جوړ کړي.

## زلمی خلیلزاد: هڅه کوو چې تر ټاکنو مخکې له طالبانو سره د سولې هوکړې ته ورسېږو



۳

### د خلیلزاد وروستۍ څرګندونې او د سولې تصویر

۲ مخ

### د سولې وروستۍ هلې ځلې

۲ مخ

### علائم کبد چرب؛ هر مرحله از کبد چرب چه نشانه‌هایی دارد؟

۵ مخ

## راپورونه: ځانګړو ځواکونو د هلمند په سنګین ولسوالۍ کې ملکیانو ته درانه تلفات اړولي دي

د هلمند په سنګین ولسوالۍ کې د ځانګړو ځواکونو په عملیاتو کې له ۲۰ ډېر ملکیان وژل شوي دي.

په مشرانو جرګه کې د دغه ولایت استازي هاشم الکوزي ویلي چې د دغه ولایت په سنګین ولسوالۍ کې ځانګړو ځواکونو له ۲۰ ډېر ملکیان وژلي دي.

د الکوزي په خبره، دغه عملیات د سنګین ولسوالۍ په ښاروان کلا سیمه کې شوي، چې پر مهال یې د ملکي کسانو دوه کورونه په نښه شوي او یاده مرګ ژوبله یې اړولې ده.

بلخوا د کندهار ولایت مطبوعاتي دفتر ویلي، په سنګین کې د ځانګړو ځواکونو عملیات د استخباراتي معلوماتو پر بنسټ تر سره شوي دي چې پر مهال یې ۲۵ طالبان وژل شوي او ۱۰ نور یې ژوندي نیول شوي دي. په اعلامیه کې راغلي چې په دغو عملیاتو کې د وسله والو طالبانو د سوق او اداري مرکز او څلور کورونه هم ویجاړ شوي دي، خو د هلمند سیمه ییزو چارواکو د دغو عملیاتو په اړه بې خبري ښودلې ده. بل لور ته طالبانو هم ویلي چې په سنګین ولسوالۍ کې د بهرنیو او کورنیو ځواکونو د عملیاتو پر مهال، ۱۱ ملکي کسان وژل شوي او د ښځو او ماشومانو په ګډون ۱۵ نور ټپیان شوي دي.

دا په تېره یو میاشت کې دریېم ځل دی چې په دغه ولسوالۍ کې ملکي کسان په هوایي بریدونو کې وژل کېږي.

تر دې وړاندې هم د بهرنیو ځواکونو په دوو هوایي بریدونو کې، لسګونو ملکي کسانو ته مرګ ژوبله واوښته چې د خلکو توند غبرګونونه یې را وپارول.

## امریکایي جنرال: امریکا په افغان جګړه کې ماتې خوړلې ده



۲ مخ

## کمیسیون انتخابات به ۸۰ نامزد برنده ولسی جرگه، وثیقهٔ انتخاباتی توزیع کرده است



کمیسیون مستقل انتخابات، دیروز در حالی به هشتاد نامزد برنده در انتخابات ولسی جرگه از ۱۸ ولایت وثیقه انتخاباتی توزیع کرد که هنوز، نتایج نهایی ۱۷ حوزه انتخاباتی را اعلام نکرده است. عبدالبدیع صیاد رئیس کمیسیون مستقل انتخابات، هنگام توزیع وثیقه های انتخاباتی گفت، هشتاد تنی که وثیقه های انتخاباتی را دریافت کردند، کسانی اند که بر اساس آرای مردم برنده شده اند.

وی افزود که تصمیم توزیع وثیقه ها به این هشتاد تن، بعد از عملی شدن تمامی تصامیم کمیسیون شکایات انتخاباتی اتخاذ شده و مطابق به قانون، کسی اختیار نقض و استیناف خواهی در مورد این تصمیم را ندارد.

رئیس کمیسیون انتخابات، وجود برخی مشکلات در انتخابات را پذیرفت؛ اما هر گونه معامله بر رای مردم و تخلف پولی در انتخابات را به شدت رد کرد و ادعای ابراز شده در این مورد را اهانتی به افغانستان خواند.

به گفتهٔ او، کسانی که این چنین ادعاها را دارند، برای ثبوت آن اسناد و مدارک را در اختیار ارگان های عدلی و قضایی قرار دهند.

صیاد افزود: «شایعات گسترده از سوی برخی حلقات و نامزدان بازنده علیه کمیسیون های انتخاباتی جریان دارد، بیایید صادقانه باخت خود را قبول کرده و از افترا و ادعاهای نادرست پرهیز کنیم».

وی خاطرنشان ساخت که این کمیسیون تا پانزدهم ماه آینده (حوت)، نتایج نهایی سایر حوزه های انتخاباتی را اعلام و وثیقه انتخاباتی برای نامزدان برنده دیگر را توزیع خواهد کرد.




## دریځ

### د خلیلزاد وروستۍ څرګندونې او د سولې تصویر

د افغانستان د سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي، دوی هڅې کوي چې تر افغان ولسمشریزو ټاکنو وړاندې له طالبانو سره هوکړې ته ورسېږي او یا هم په دې برخه کې مهم پرمختګونه وکړي. خلیلزاد دغه راز ویلي چې هڅه کوي له طالبانو سره د سولې هوکړې ته ورسېږي، نه د بهرنیو ځواکونو د وتلو هوکړې ته. نوموړي پر طالبانو یو ځل بیا نیوکه کړې او دا یې بې پروایي ګڼلې چې له افغان حکومت سره خبرو ته نه کېني.
داسې ښکاري چې لا هم د ځواکونو د وتلو په تړاو په امریکایي دریځ کې ابهام دی. ټرمپ، خلیلزاد او نور امریکایي چارواکي په دې تړاو متفاوتې خبرې کوي. ښایي امریکا له طالبانو سره په روانو خبرو کې په دې تړاو وضاحت ورکړی وي، خو ښکاري چې امریکا یا غواړي ابهام رامنځ ته کړي او یا هم د ځواکونو د وتلو په تړاو ثابت دریځ نه لري. اوس چې د طالبانو او امریکا ګډې کمېټې چې پر ځینو مسایلو به ګډ کار کوي او یوه طرحه به د فبرورۍ په ۲۵مه په دوحه کې د طالبانو او امریکایي استازو ګډې غونډې ته راوړي، نو ښایي دا مسئله پکې د یو خنډ په توګه پاتې وي. که څه هم طالبانو ویلي چې امریکایي لوري د ځواکونو وتل منلي دي، خو د امریکایي چارواکو وروستۍ خبرې بیا هم بدلې شوې ښکاري.
له بله اړخه دا ښه خبره ده چې د سولې په چاره کې تر ټاکنو وړاندې باید یوه هوکړه وشي، خو د افغان ستونزې پېچلو اړخونو ته په پام سره عملي نه ښکاري. ښایي پرمختګونه وشي او مهم پرمختګونه وشي، خو د هوکړې شونتیا کمه ده. دا چې خلیلزاد تر ټاکنو وړاندې پر هوکړې ټینګار کوي، غواړي وښیي چې دوی د ټاکنو د ځنډولو او موقت یا انتقالي حکومت پلان نه لري. خلیلزاد د افغان حکومت او بیا په ځانګړي ډول د اشرف غني له اړخه غبرګونونه او په دې تړاو حساسیتونه درک کوي، نو ځکه نه غواړي چې د ټاکنو د ځنډ بحث وکړي. که یو طرف ته تر ټاکنو وړاندې د سولې هوکړه ناشونې وي او بل لور ته ټاکنې سولې ته خنډ جوړ کړي، نو امریکا به د ټاکنو له ځنډولو پرته بل انتخاب ونه لري. دغه راز د موقت او انتقالي حکومتونو بحث هم له بیا بیا ردولو سره سره لا هم مهم دی او ویل کېږي چې په دې تړاو د خلیلزاد او طالبانو ترمنځ بحثونه هم شوي چې دواړه لوري یې پټ ساتي.
د افغانستان خلک که ټاکنې غواړي او که سوله، هدف یې دا دی چې په ژوند کې یې مثبت بدلون راشي. دا روښانه ده چې سوله لومړیتوب دی او ټاکنې یې هېڅلکه بدیل نه شي کېدلی، خو غواړي پوه شي چې د ټاکنو ځنډول او یا د موقت حکومت بحث به د سولې له چارې سره مرسته کوي او که نه. که سوله کېږي او واقعي سوله کېږي، نو افغانان یې له هرې لارې ملاتړ کوي او په دې برخه کې به چاته اجازه ور نه کړي چې خنډ جوړ کړي.

# د سولې وروستۍ هلې ځلې

لیکنه: عبدالباري جهاني


په افغانستان کې کابو له څلوېښتو کلونو راهیسې جنګ روان دی. د دغو څلوېښت کلنو تحمیلي جنګونو په جریان کې داسې تاوان نشته چې د افغانستان ولسونو ته به نه وي رسېدلی. وروستي جنګونه چې پر افغانستان باندې د متحده ایالتونو او د هغوی د لوېدیځو او ختیځو متحدینو په یرغل پیل شوي دي، له تقریباً پنځلسو کلونو راهیسې روان دي او اوس یې د یوه بشپړ ملي بحران بڼه غوره کړې ده. دا جنګونه په لومړي سر کې د کندهار په حوزه او ورپسې په ټولو پښتني سیمو کې پیل شول او اوس یې له بدخشان څخه تر بادغیس او نیمروز پورې ټول هېواد پر سر اخیستی دی. د ولسمشر اشرف غني د یوې وروستۍ وینا پر بنسټ، په وروستیو څلورو کلونو کې یوازې ۴۵ زره پوځیان وژل شوي دي. د ټیپانو او معیوبینو شمېر خدای ته معلوم دی. ملکي تلفات تر دې هم زیات دي او طالبانو ته به هم حتماً په دغه اندازه او یا په دغو حدودو کې تلفات رسېدلي وي. له ټولو قراینو څخه ښکاري چې جنګونه به په روان کال کې د پسرلي له موسم سره سم نور زور هم واخلي او د راتلونکو کلونو درک معلوم نه دی.
د جنګونو له امله د رسېدلو زیانونو او کړاوونو په باره کې به ځکه څه نه وایو چې هر څه وایو تکراري دي او چې هر څه ووایو لا به هم کم وي. په عمومي ډول ویلای شو چې سوله د ټولو مظلومو ولسونو، چې د هېواد ۹۵ سلنه برخه جوړوي، ګډه او د هرې ورځې غوښتنه ده. امریکایانو او د افغانستان دولت، په لومړي سر کې طالبانو ته د اشرارو د یوې وړې ډلې په سترګه کتل او داسې یې تبلیغ کول چې دا د پاکستان د پوځي استخباراتو د ادرې یا ((ISI په لاس جوړه شوې ډله به نن وي که سبا، په بشپړه توګه له منځه ځي او په هېواد کې به دایمي کراري راشي. منورینو هم ویل چې که امریکا پر پاکستان باندې فشار واچوي، دا ډله د مقاومت توان نه لري. حکومتي چارواکو به ویل چې امریکا باید د پاکستان په خاوره کې دننه د طالبانو د روزنې مرکزونه بمبار کړي او په هغه خاوره کې یې له منځه یوسي. البته دا ټول کارونه د نه کولو وو؛ ځکه نو یو کار هم ونه شو او جنګ همداسې دوام وکړ.
په وروستیو میاشتو کې له خلکو سره هغه وخت د یوې دایمي سولې د ټینګېدو هیلې پیدا شوې، چې د امریکا جمهور رییس ډونالډ ټرمپ له افغانستانه د پوځونو د ایستلو غږ وکړ او له طالبانو سره یې د سولې د خبرو لپاره خپل ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد افغانستان او سیمې ته واستاوه. خلیلزاد په سیمه کې ډېر سفرونه وکړل، له طالبانو سره یې په دوحه کې وکتل او ټاکل شوې ده چې د فبروري پر پنځه ویشتمه بیا هم ورسره وګوري؛ خو پر ټوېټر باندې د هغه له هغه وروستي خپاره کړي پیغام څخه ښکاري چې امریکایان لا هم په نږدې راتلونکي کې له افغانستانه د وتلو خیال نه لري او په دې توګه به ګواکې د جنګ اصلي عامل چې د خارجي پوځونو حضور دی، تر نامعلومې مودې پورې پاتې وي.
د سولې د ټینګېدو لپاره نورې ډېرې هلې ځلې شوې دي؛ خو پایله یې نه ده ورکړې، تر دې چې په دې وروستیو کې مسکو دغه ډګر ته ځکه ودانګل، چې له اتلسمې پېړۍ راهیسې په دې سیمه کې پوځي او سیاسي حاکمیت، نفوذ او ګټې لري. هغه د افغانستان په چارو کې لږ تر لږه تر امریکا او لوېدیځې نړۍ، چې له ډېرې لرې فاصلې څخه یې دلته مداخله کړې ده، ځان مستحق بولي او د سولې په کارونو کې یې ځکه د مداخلې کولو جرئت وکړ چې امریکا په دغه جنګ کې عملاً ناکامه ده.
روسیې، څه باندې یوه میاشت مخکې د طالبانو لپاره په مسکو کې یوه نسبتاً وړه غونډه او دا ځل یوه ډېره پراخه غونډه چې د شیرمحمدعباس ستانکزي په مشرۍ د طالبانو لوړ پوړي استازي هم برخه پکې درلوده او د هېواد د پخواني جمهور رییس حامدکرزي په ګډون د افغانستان ډېرو سیاسي مشرانو چې جنګسالاران پکې شامل وو، را وبلله. په دغو غونډو کې د هر چا د انتظار په خلاف، ډېرې سپینې، جدي او معقولې خبرې وشوې او سړي ته یې د سولې د راتلونکي په باره کې هیلې پیدا کولې. ما هېڅ فکر نه کاوه چې قانوني، طالب او عطا نور دې یو وخت خبرو ته سره کښېني او د یوه بل خبرې دې په دومره سړه سینه واوري. زه له خپلو هغو منورینو او د نظر خاوندانو څخه چې د جنګ له زلزلو، بمونو، ځانمرګو بریدونو او ډزو څخه په زرهاوو میله لرې، د غرب په آرام سیوري کې پراته دي، د یوه وطندار په حیث هیله کوم چې دې وروستیو خبرو او انکشافاتو ته یو څه په مثبت نظر وګوري او پر نېک شګون یې ونیسي.
د ډاکټر اشرف غني حکومت ځکه په غوسه دی چې نه خلیلزاد چنداني ری پکې وواهه او نه د مسکو په خبرو کې چا د برخې اخیستو ست قدر ورته وکړ. طبیعي خبره ده چې د هغه طرفدارو منورینو، شاعرانو، ژورنالېستانو او مطبوعاتو په یوه خوله او یوه آواز د مسکو خبرې وغندلې. زه له خپلو منورینو او پوهانو څخه هیله کوم چې ډېر ژر منفي دریځ مه غوره کوی. خیر دی د یوه لنډ وخت لپاره پر خپلو ځانونو او مغزونو زور راولی، ګیلاس نیم ډک وګوری او پر نیم تش باندې سترګې پټې کړی. زه یقین لرم چې اکثره منورین به زما په څېر بې معلوماتو وي او د کافي معلوماتو د نه لرلو په صورت کې قضاوتونه که غلط نه وي، نو نیمګړي خو حتماً وي. داسې به یې فرض کړو چې دا خبرې له سره شوې نه وای. طالبانو، یونس قانوني او عطانور له سره سره کتلي نه وای، نو څه پېښېده؟ ځواب هېڅ دی. منطق حکم کوي چې نتیجه د عمل محصول وي. که عمل نه وي، طبیعي خبره ده چې نتیجه یا صفر او یا ښایي د نورو اجتماعي عواملو په اساس منفي وي.
موږ په داسې حال کې چې د پردې تر شا د معاملو او سازشونو څخه تقریباً هېڅ اطلاع نه لرو، نو ولې داسې بې صبره شو او که راته په غوسه کېږی نه، نو زه به یو سوال لا بل وکړم او هغه دا چې تاسې په رښتیا هم فکر کوی چې زموږ لیکنې او منفي عکس العملونه د چا د پالیسۍ پر ټاکلو کومه اغېزه لري؟ هغوی که زموږ په لیکنو او نظریاتو کې ری وهلای، نو حتماً به یې زموږ نظر غوښتی وای او یا به یې په یوه غونډه کې د برخې اخیستو بلنه راکړې وای. خدای دې وکړي چې ماته په غوسه نه شی. وایم داسې نه وي چې څوک مو په کلي کې نه پرېږدي او موږ وایو چې آس مو د ملک په کور کې وتړئ. زما له خپلو ټولو منورو وطندارانو څخه هیله دا ده چې لږ صبر وکړي. هر انکشاف ته له یوې مثبتې زاویې وګوري. ګوندې وي چې دا وروستۍ خبرې د دایمي سولې په لاره کې چې د ټول مظلوم افغانستان د کلونو ارزو ده، یو ښه پیل وي.
که څوک داسې فکر کوي چې له دغو غونډو څخه دې روسیه، پاکستان، ایران، سعودي عربستان، ترکیه او... د خپلو ګټو لپاره استفاده نه کوي، نو دا خیال به له سره باسو. موږ مظلوم او محاصره شوی هېواد یو او د سولې د ټینګېدو په بدل کې به دغو ټولو ظالمانو ته، لږترلږه تر یوه وخته پورې خپلې ونډې ورکوو. موږ به تر هغه وخته پورې چې پخپله پر پښو دربږو، د دغو ټولو ظالمانو ګټې په نظر کې نیسو. موږ د یو موټې، خپلواک او پر خپلو پښو ولاړ افغانستان د جوړېدو لپاره ډېر ویرژلي پړاوونه په مخ کې لرو. د سولې دغو وروستیو خبرو ته، د سولې د ټینګېدو او اوږدې پروسې په لاره کې د یوه لومړي نیمګړي ګام په سترګه وګورې. زه یقین لرم حکومت به، ډېر ژر یا لږ وروسته د سولې په خبرو کې ځانګړی مقام ولري. موږ منورین که د سولې په ټینګېدو کې مرسته نه شو کولای، نو په تخریب کې یې باید برخه وانه خلو.

## خلیلزاد: موخه مو په افغانستان کې د سولې راوستل دي، نه د ځواکونو ایستل

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي چې موخه یې افغانستان ته سوله راوستل دي، نه د امریکایي ځواکونو ایستل. خلیلزاد دغه څرګندونې د واشنګټن د سولې په انسټیټیوټ کې د افغان سولې په تړاو د روانو هڅو په اړه په یوه ازاد بحث کې کړې دي.
هغه له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو په تړاو د یوې پوښتنې په ځواب کې ویلي: «په راتلونکي کې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو حضور مشروط دی، خو ناڅاپي یې نه وباسو».
دا په داسې حال کې ده چې د طالبانو د قطر دفتر یوه غړي څو ورځې مخکې رسنیو ته ویلي وو چې ځینې امریکایي ځواکونه په روانو دوو- دریو میاشتو کې له افغانستانه وځي. خلیلزاد ویلي: «د ولسمشر ټرمپ په سپارښتنه زما عمده هدف دا دی چې د افغانستان په تړاو له طالبانو سره د سولې تړون وشي، نه د ځواکونو د وتلو تړون».
د هغه په خبره، د سولې له تړون سره بیا د ځواکونو وتلو ته لاره هوارېږي، اوسمهال د امریکایي ځواکونو پر وتلو خبرې نه کوو.
نوموړي دغه راز ویلي، د دې لپاره چې د افغان سولې بهیر یوې پایلې ته ورسېږي، ځینې نور موضوعات شته چې باید هوار کړل شي. د هغه په خبره، اوس یې د سولې په خبرو کې پر دوو شیانو ډېر تمرکز کړی، چې یو یې له ترهګرۍ سره مبارزه او بل د امریکایي ځواکونو وتل دي.
هغه زیاته کړې: «له ډېرو خبرو وروسته په اصولو کې له طالبانو سره پر یوه میکانېزم یوې موافقې ته رسېدلي، چې داسې ضمانت ورکړل شي، څو هېڅ ترهګره ډله، نړیوالې ترهګرې ډلې او اشخاص د دې وړتیا ونه لري چې له افغانستانه بیا ناوړه استفاده وکړي او د امریکا او متحدینو ضد کړنې ترسره کړي». د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي ویلي چې په راتلونکي کې هم له طالبانو سره ګوري او ښایي د شوو ژمنو او موافقو په اړه نور پرمختګونه هم وشي.
هغه په دې تړاو ویلي: «امریکا او طالبانو په اصولو کې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو پر یوه میکانېزم هوکړې ته رسېدلي چې دا به د سولې د تړون یوه برخه وي». د خلیلزاد په خبره، دغه راز امریکا له افغان حکومت سره هم پر دغو موضوعاتو پر خبرو بوخته ده. هغه هیله څرګنده کړې، کله چې په یادو دوو موضوعاتو کې پرمختګ وشي، نو بیا پر نورو موازي موضوعاتو خبرې او پرمختګ هم کېدای شي.
نوموړي دغه راز ویلي، د افغانستان له ولسمشریزو ټاکنو مخکې د سولې تړون ممکن دی، خو هغه د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ پر خبرو ټینګار کړی او هیله یې څرګنده کړې چې دا مسئله هواره شي.
د نوموړي په خبره، د امریکا له نظره د سولې تړون باید ژر تر ژره وشي او دا د افغانستان په ګټه هم دی چې که له ولسمشریزو ټاکنو مخکې هوکړې ته ورسېږي.

## امریکایي جنرال: امریکا په افغان جګړه کې ماتې خوړلې ده

یوه امریکایي جنرال چې له ۲۰۰۸ تر ۲۰۰۹ زېږدیز کال پورې یې په افغانستان کې نظامي ماموریت کړی، ویلي، امریکا تر اوسه دغه ټکي ته نه ده متوجه شوې چې افغان جګړه یې طالبانو ته بایللې ده.
ډونالډ بالدوچ له یاهو نیوز سره په مرکه کې ویلي، دا یو تریخ حقیقت دی چې ووایم امریکا په افغان جګړه کې ماتې خوړلې ده.
یاد امریکایي جنرال زیاته کړې، ده په افغان جګړه کې تر خپل امر لاندې سرتېري لیدلي چې وژل شوي دي، نو ځکه دا تریخ حقیقت هم درک کولی شي.
هغه ویلي، امریکایي سرتېرو خپله دنده په سمه توګه پر مخ وړې ده، خو په دې برخه کې د امریکا ستراتېژۍ د ملاحظې وړ ده، ځکه امریکا د خپلو سرتېرو د خوندیتوب لپاره هېڅ داسې ستراتېژي نه لرله چې سړی پرې حساب وکړي.
هغه دغه راز د خپلو خبرو پر دوام ویلي، که امریکا په ۲۰۰۱ زېږدیز کال کې د طالبانو د اوربند وړاندیز منلی وای، ښایي د سولې شرایط ډېر اسانه شوي وای، خو اوس به دا هر څه د طالبانو په خوښه ترسره کېږي.
دا په داسې حال کې ده چې امریکا ویلي، خپل ځواکونه به له افغانستانه وباسي، خو دا چاره په جګړه کې د ماتې نه، بلکې د افغانستان د سولې لپاره ترسره کوي.



# زلمي خلیلزاد: هڅه کوو چې تر ټاکنو مخکې له طالبانو سره د سولې هوکړې ته ورسېږو



د افغانستان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو ځانګړي استازي له طالبانو سره د خپلو وروستیو اوږدو خبرو ځینې جزیات برسېره کړي دي. زلمي خلیلزاد د امریکا د سولې په انسټېټیوټ کې د خبرو پر مهال ویلي، ټولې هڅې د دې لپاره دي چې د افغانستان تر ولسمشریزو ټاکنو مخکې له طالبانو سره یوې هوکړې ته ورسېږي یا په خبرو کې د پام‌وړ پرمختګ رامنځ ته شي. نوموړي دا هم زیاته کړې چې که تر ټاکنو مخکې له طالبانو سره د سولې هوکړه رامنځ ته نه شي، نو ټاکنې به پر خپل وخت ترسره شي او وبه نه ځنډول شي. تر دې مخکې طالبانو او امریکایي سرچینو هم ویلي وو چې له افغانستانه د امریکایي عسکرو پر وتلو او د هېواد له خاورې د ترهګریزو بریدونو د مخنیوي پر لارو سلا شوي دي، خو تر یوې بشپړې هوکړې لاره لا اوږده ده.

د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د امریکا د سولې په انسټېټیوټ کې د افغانستان د سولې پر بهیر وینا کې، له یوې خوا تر را روانو ټاکنو د سولې هوکړې ته د رسېدلو هیله څرګنده کړې او بل لور ته یې اوسني حالات ځکه د افغان سولې لپاره مناسب نه دي ګڼلي چې طالبان نور خپله بریا په جګړه کې نه ویني. د نوموړي په خبره، طالبان په دې پوهېدلي چې د جګړو له لارې نه شي بریالي کېدای، نو اوس د دې وخت دی چې د سولې او مذاکراتو لار خپله کړي.

ښاغلي خلیلزاد په خپله وینا کې ټینګار کړی چې څومره ژر شونې وي، ښه ده چې افغانان پر سولې سره سلا شي. نوموړي ویلي: «دا به ډېر ښه او مثبت وي چې تر ټاکنو وړاندې هوکړه او یا د هوکړې پر لور ډېر پرمختګ وشي. دا هوکړه او پرمختګ د راتلونکې په اړه د افغانانو پر پرېکړې اغېز درلودلی شي. خو که د سولې بهیر په ټپه ولاړ وي، موږ په افغانستان کې ټاکنې نشو ځنډولی او تیاری یې باید پرمخ ولاړ شي. زه خپله ټوله هڅه کوم چې که موږ وکړای شو یوې هوکړې ته ورسېږو. له اوس تر جولای میاشت کافي وخت په منځ کې دی او موږ کولی شو هوکړې ته ورسېږو. خو لږترلږه موږ ښه پرمختګ کړی چې دا د ټاکنو په ګډون پر راتلونکې ښه اغېز لري.»

نوموړي له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو په اړه هم ویلي، داسې ګنګوسې دي چې امریکایي ځواکونه به له افغانستانه وځي، خو د امریکایي ځواکونو حضور او وتل د سولې په ټرون پورې اړه لري. د ده په خبره، که د سولې خبرې یوې مثبتې پایلې ته ورسېږي، نو امریکایي ځواکونه به هم له افغانستانه ووځي، خو که د سولې خبرې هوکړې ته و نه رسېږي، امریکایي سرتېري به په نورماله توګه په افغانستان کې خپلو فعالیتونو او اقداماتو ته ادامه ورکوي.

ښاغلي خلیلزاد د طالبانو پر دې دریځ هم نیوکه کړې چې له افغان حکومت سره خبرې نه کوي، د نوموړي په خبره، بې پروایي د طالبانو له خوا ده چې له افغان حکومت سره خبرو ته نه کېني خو وایي، ټول هغه مسایل یې چې له طالبانو سره شریک کړي، له افغان حکومت سره هم شریک شوي دي. نو له همدې امله د دې هیله شته چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو زمینه برابره شي. خلیلزاد پر دې ټینګار کړی چې افغانان باید له یو بل سره د یوه مېز تر شا کېني او موافقې ته ورسېږي، خو د ده په خبره، امریکا نه شي کولی د دوی ځای ناستې شي.

زلمي خلیلزاد پر طالبانو هم غږ کړی چې له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته حاضر شي او په دې توګه شته ستونزې د مذاکراتو او خبرو پر مټ حل کړي. نوموړی وایي، د طالبانو ډېر مسایل له افغان حکومت سره په مذاکراتو کې حل کېدلی شي او ډېر داسې مسایل دي چې افغان حکومت یې د حل صلاحیت لري او هغه له امریکا سره په مذاکراتو کې د حل وړ نه دي.

## فیفا: د ټاکنو قانون د تعدیل د مسودې له چمتو کېدو هرکلی کوو

پر ټاکنو د څار بنسټونو، د ټاکنو قانون د تعدیل د مسودې د چمتووالي په اړه ویلي، که د ټاکنو قانون له تعدیل وروسته د کمېسیونونو، سیاسي اړخونو او حکومت له خوا تر پوښتنو لاندې را نه شي، راتلونکي ولسمشریزې ټاکنې به رڼې ترسره شي.

د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ یا فیفا د ولسمشرۍ ماڼۍ له خوا د ټاکنو د قانون د تعدیل د مسودې له چمتووالي ملاتړ کړی او ویلي یې دي چې له ټاکنو وړاندې د ټاکنو په قانون کې د شته نیمګړتیاوو او ستونزو له منځه وړل، په ټاکنیز نظام کې د اصلاح لپاره یو مثبت او ګټور ګام دی.

د دغه بنسټ اجرایوي رییس یوسف رشید په دې اړه ازادي راډیو ته ویلي: «د انتخاباتو په قانون کې تعدیل ته اړتیا ده او موږ یې هرکلی کوو او دا ځکه چې موږ مخکې له دې چې ولسمشریزو انتخاباتو ته لاړ شو، ښه ده چې د انتخاباتو په قانون کې شته ستونزې هوارې او له منځه یوړل شي. د حکومت له خوا په جوړه شوې طرحه کې یو لړ ښېګڼې لیدل کېږي، خو پکې نور بحث ته اړتیا لیدل کېږي.»

رشید دغو اندېښنو ته په ځواب کې چې ښايي حکومت د ټاکنیزو کمېسیونونو د کمېشنرانو په ټاکلو کې خلاص مټ ولري، ویلي چې په نوې طرحه کې د ټولو سیاسي ګوندونو، مدني ټولنو او پر ټاکنو د څار له بنسټونو نظرونه اخیستل شوي او په دې برخه کې کومه اندېښنه نشته.

دا څرګندونې په داسې حال کې کېږي چې ورمه ورځ په ولسمشرۍ ماڼۍ کې د ټاکنو د قانون د تعدیل په اړه په یوه مشورتي ناسته کې ولسمشر غني وویل چې د ټاکنو قانون د تعدیل طرحه چمتو شوې ده.

د ولسمشرۍ ماڼۍ د معلوماتو له مخې، د دې طرحې په څرنګوالي کې د کاندیدانو، د دوی د استازو او سیاسي ګوندونو د مشرانو ترمنځ، له مشورو وروسته پرېکړه په دې شوې چې د یوې تخنیکي کمېټې له جوړولو وروسته دا مسوده ډېر ژر بشپړه شي.

په ټاکنیزو کمېسیونونو کې د اصلاحاتو او د ټاکنو په قانون کې د تعدیل موضوع وروسته له هغې توده شوه، چې د ولسي جرګې ټاکنې ډېرو ستونزو او نیمګړتیاوو سره ترسره شوې. په ورته وخت کې د ټاکنو څېلواک کمېسیون مرستیال ویاند میرزا محمد حقپرست ویلي، که څه هم د ټاکنو د قانون د تعدیل مسوده له دوی سره نه ده شریکه شوې، خو دوی په ټاکنیز نظام کې د هر ډول اصلاحاتو هرکلی کوي.

نوموړي ویلي: «د انتخاباتو څېلواک کمېسیون له هر هغه اقدامه هرکلی کوي چې د هېواد په انتخاباتي نظام کې اصلاح راولي، خو د انتخاباتو څېلواک کمېسیون د انتخاباتو د قانون د تعدیل په اړه چې کومه لومړنۍ ناسته په ولسمشرۍ ماڼۍ کې شوې، په رسمي توګه په جریان کې نه دی».

## د سولې عالي شورا: د خلیلزاد وروستۍ څرګندونې هیله بښونکې دي، ترې هرکلی کوو

د زلمي خلیلزاد له تازه څرګندونو وروسته چې ویلي یې وو، هڅه کېږي چې په افغانستان کې تر ولسمشریزو ټاکنو د مخه له طالبانو سره د سولې هوکړه وشي، د سولې عالي شورا ویلي، په عمل کې د دغو خبرو د پلي کېدو غوښتونکي یو.

د دې شورا ویاند سید احسان طاهري ازادي راډیو ته ویلي چې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړي استازي هڅې د قدر وړ دي او دوی هم هیله من دي چې ژر تر ژره د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې مخامخ خبرې پیل شي.

نوموړي ویلي: «موږ له هرې همغږې هڅې ملاتړ کوو او کومې هڅې چې د امریکا په استازیتوب د زلمي خلیلزاد له خوا روانې دي، له موږ سره همغږې دي. موږ د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ ژر تر ژره د سولې د خبرو د پیل لپاره چې پرېکړه کوونکې به وي، هېڅ فرصت او ممکنه لاره له لاسه نه ورکوو.»

د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د جمعې په ورځ په واشنګټن کې د سولې په انسټېټیوټ کې ویلي، هیله من دی چې له طالبانو سره د سولې هوکړه په افغانستان کې تر ولسمشریزو ټاکنو دمخه وشي.

خلیلزاد ویلي چې د سولې هوکړه به د چنګاښ د ۲۹مې د ولسمشریزو ټاکنو د ښه ترسره کېدو او دغه شان په دغو ټاکنو کې د یادې ډلې د ګډون لپاره زمینه برابره کړي.

نوموړي دغه راز ویلي، دوی ژر تر ژره په افغانستان کې د اوربند غوښتونکي دي، خو په خبره یې چې طالبان یې پلوي نه دي، ځکه دوی غواړي له دغه څه د وسیلې په توګه کار واخلي.

ټاکل شوې چې د امریکایي چارواکو او طالب استازو ترمنځ راتلونکې پړاو خبرې چې ډېرې هیلې هم ورپورې تړلې دي، په راتلونکو دوو اونیو کې په قطر کې پیل شي.

په ورته وخت کې د ولسي جرګې دویم منشي عرفان الله عرفان ویلي، په افغانستان کې ټولې خواوې د سولې غوښتونکې دي، خو نوموړي ټینګار کړی چې له طالبانو سره د سولې هوکړه باید هر اړخیزه وي.

نوموړي زیاته کړې: «هیله من یم چې د ښاغلي خلیلزاد خبرې د ټولو خواوو قناعت خپل کړي او ورنه ملاتړ کوو. هیله من یم چې خدای مه کړه، داسې کار ونه شي چې هوکړه ډېره سطحي او د ټولو اړخونو په پام کې له نیولو پرته ترسره شي او په راتلونکي کې نورې ستونزې پیدا کړي.»

طالبانو تر دې مخکې په وار وار له حکومت سره خبرې رد کړې دي او دا موضوع تر اوسه پورې د سولې د پروسې په وړاندې لوی خنډ ګڼل کېږي.

## سعودي: محمد بن سلمان د جمال خاشقجي د وژلو امر نه دی ورکړی



د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزارت مرستیال عادل الجبیر ټینګار کړی چې د ژورنالېست جمال خاشقجي د وژلو امر د هغه هېواد ولیعهد شهزاده محمد بن سلمان نه دی ورکړی.

دا په داسې حال کې ده چې نیویارک ټایمز ورځپاڼې په دې وروستیو کې ویلي وو چې د سعودي عربستان ولیعهد د ۲۰۱۷ زېږدېز کال په سپټمبر کې ویلي وو، چې که خاشقجي سعودي عربستان ته ستون نه شي او د حکومت پرضد له تبلیغه لاس وانه خلي، یوه مرمۍ به ترې جار کړي.

نوموړي امریکایي خبریالانو ته ویلي چې شهزاده محمد بن سلمان د خاشقجي د وژلو امر نه دی ورکړی، خو هغه په دې تړاو د نیویارک ټایمز ورځپاڼې پر رپوټ له تبصرې ډډه کړې ده.

الجبیر ویلي، هغوی پوهېږي چې د خاشقجي د وژنې لپاره عملیات په ریاض کې د چارواکو د موافقې پر اساس نه دي شوي.

دا په داسې حال کې ده چې د تېر زېږدیز کال د اکتوبر په دویمه جمال خاشقجي په استانبول کې د سعودي عربستان کونسلګرۍ ته په شخصي اسنادو پسې ورغلی و او له هغه ځایه بې درکه شو. وروسته بیا معلومه شوه چې د سعودي عربستان د استخباراتو ځینې مامورین د خاشقجي د وژلو لپاره استانبول ته ورغلي وو او هغه یې وژلی دی.

د سرچینو په حواله، د خاشقجي جسد په کونسلګرۍ کې ټوټې ټوټې شوی و او له هغه ځایه یې ټوټې په کڅوړو کې نامعلوم ځای ته لېږدول شوې وې.

سعودي چارواکو ویلي چې دا کار د ریاض په ځانګړې توګه د ولیعهد شهزاده محمد بن سلمان د اجازې له مخې نه دی شوی.

بلخوا د خاشقجي نامزاده خدیجه چنګېز او د ترکیې چارواکي د خاشقجي د جسد پر ورسپارلو ټینګار کوي، څو د هغه د وژلو د شرایطو په اړه څېړنې وشي.

خدیجې چنګېز چې خاشقجي غوښتل واده ورسره وکړي او د همدې لپاره استانبول ته تللی و، دا خبرې په خپل هغه کتاب کې کړې چې له خاشقجي سره د خپلې اشنایۍ خاطرې یې پکې لیکلې دي.

دا کتاب په ترکي ژبه خپور شوی او په را روانو اونیو کې به په انګرېزي او عربي ژبه هم خپور شي.

ترکي چارواکي لا هم د خاشقجي د وژنې په اړه په څېړنو کې د سعودي له همکارۍ رضایت نه لري.

د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر مولود چاوش اوغلو د ملګرو ملتونو له سازمانه غوښتي چې د خاشقجي د وژنې په اړه د روانو څېړنو څارنه وکړي.

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو ځانګړې څېړونکې چې په دې اړه د څېړنو مشري کوي، ویلي چې خاشقجي د هغه ظالمانه جنایت قرباني دی چې مخکې له مخکې د سعودي چارواکو له خوا پلان شوی و.

د ملګرو ملتونو د دغه څېړونکي ټیم مشر په دې اړه ویلي چې سعودي عربستان هڅه کوي چې د خاشقجي د قتل په اړه د ترکیې د حکومت څېړنو ته په یو نه یو ډول خنډ جوړ کړي.

## د کتـــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ ليکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: ميـراحمد يـاد

**درېیم څپرکی**
**پر ځان باور وکړئ**
**او وېره ووژنئ**




**۳) جان ته د شرکت کوچنی دفتر ورسېد او سړی خپه شو**

څو کاله مخکې مې یوه صحنه ولیدله چې په دفتر کې د ځای په اړه وه، د یوه هلک لنډپاری (لنډ نظر) په تبلیغاتو کې د ده د کار ډېر گټور فرصت ترې واخیست.
څلور هم رتبه مدیران یوه نوي دفتر ته لېږدېدل، د نوي دفتر درې خونې په ښایست او پراختیا کې سره ورته وې، خو څلورمه خونه بیا لږه وړه او ساده وه.
همدا څلورمه خونه د جان ورسېده او دې موضوع د هغه غرور ټپي کړ. داسې یې وگڼل چې ظلم ورسره شوی او د همدې احساس له امله یې د رخې، کینې او بدبینۍ بنسټ کېښود. د جان زړه ورو ورو له کاره توربده، تر دې چې له خپلو هم رتبه مدیرانو سره یې دښمني را واخیسته. د همکارۍ پر ځای یې ټوله هڅه په دې کوله چې د هغوی زیار بې ارزښته وښیي. بلاخره ټول کارونه گډوډ شول، درې میاشتې وروسته جان له دندې وشړل شو، ځکه مدیریت له شړلو پرته بله لاره نه درلوده. لنډپاري او هغه په دومره وړه موضوع، انسان د غره له څوکو گړنگونو ته غورځوي. هغه فکر وکړ چې د دفتر په وېشلو کې ورسره تبعیض شوی دی او همدې فکر پرې نښود چې د شرکت چټک پرمختگ او د کاري فضا د کمي موضوع درک کړي. حتی دا پوښتنه یې هم و نه کړه چې دوی ته کوم کس دفترونه ورکول، هغه پوهېده چې کوم دفتر لوی او کوم کوچنی دی؟ په هغه دفتر کې له جان پرته بل هېچا، د دفتر پراخوالی د ده د خپل ارزښت ټاکونکی ونه باله.
که په لیست کې مو وروستی نوم راغی، یا درته د اصلي پاڼې پر ځای کاپي ورسېده، دا ډېر واړه موضوعات دي، زړه ورته مه خورئ، ځکه دې وړو موضوعاتو کې لنډپاري سخته ځوروونکې ده، نو لوی فکر وکړئ چې دا واړه شیان مو د لارې خنډ نه شي.

**٤) حتی ژبه نښتل هم دومره خبره نه ده!**

د خرڅلا یوه مدیر راته ویل، انسان که لازمه وړتیا ولري، نو د خرڅلاو په کسب کې ژبه نښتل هم دومره لویه موضوع نه ده، کیسه یې راته وکړه چې:
(یو بل ملگری مې هم د خرڅلاو مدیر دی، خو سخت ټوکي دی او خلک سخت ځوروي. خو کله کله ټوکې هم لانجه جوړوي، څو میاشتې مخکې مې دې ټوکي ملگري ته یو کس ورغلی و او ورته یې ویلي وو چې د خرڅلاو په برخه کې راته چېرته کار پیدا کړه. د دې سړي ژبه ډېره کلکه نښته. ملگري ته مې ښه فرصت په لاس ورغلی و، ورته ویل یې چې ما سره خو کار نشته، خو (زه یې ورته ښودلی وم چې) یو ملگری مې دی، د هغه بیخي ستا په شان یو کس پکار دی، بیا یې ماته زنگ را وواهه او د هلک یې ښه صفت راته وکړ، زه هم له اصلي کیسې نه وم خبر، ورته ومې ویل چې: (را ويې لېږه!)
سړی دېرش دقیقې وروسته را ورسېد، زلمي لا درې خبرې نه وې کړې چې زه مې د ملگري په نیت او په دې پوه شوم چې ولې یې را لېږلی. هلک په بنده بنده ژبه وویل:
(زما نوم ججججج جیک دی، زه فففففففف فلاني صیب ررررررا لېږلی ....) خوار یوه خبره سمه نه شوی کولای. ما له ځان سره وویل چې دا خوار خو به وال سټریټ کې د یوه ډالر نوټ په نوي سپنټه هم و نه پلوري. ملگري ته مې غوسه راغله، خو په دې زلمي خوار مې زړه بد شو، نو له ځان سره مې وویل چې راځه څو مؤدبانه پوښتنې ترې وکړه، که یې د رد کولو لپاره مناسبه بهانه پیدا شي. خبرې مو چې پیل کړې، پوه شوم چې هلک ساده نه دی، ځیرک زلمی دی او پر ځان جالب باور لري، خو بیا هم په دې خبرې سترگې نه پټېدې چې ژبه یې ډېره کلکه نښته. بلاخره مې د مرکې ختمولو لپاره دا پوښتنه ترې وکړه چې: (د خرڅلاو کسب ته دې څنگه را مخه کړه؟)
په بنده بنده ژبه یې وویل:
(خخخ خبره دا دد ده چې، ززززه زر زده کړه کوم، مممممممم ما فکر وکړ چې ستاسې شرکت ښه شرکت دی او زززززززما پیسو ته اااااړتیا ده، ککککک که څه هم ژژژژ ژبه مې نښلي، خو چې ززززه یې کیسه کې نه یم، ننننن نور به یې ولې ککککک کیسه کې وي؟) د هغه ځواب را وښوده چې د پلورونکیتوب لپاره پکار ټولې وړتیاوې پکې شته. دستي مې نیت وکړ چې یو فرصت به ورکوم ... او ته پوهېږې چې هغه اوس ډېر ښه کار کوي.(
نو که یو انسان نورې وړتیاوې لري او حتی د خبرو اترو په کسب کې یې ژبه نښلي، دا ژبه نښتل هم چنداني مهمه موضوع نه ده.

**له وړو مسایلو د خلاصون لپاره دا درې کاره وکړئ:**

۱) یوازې په لویو موخو فکر کوئ. موږ هغه پلورونکي ته ورته یو چې سودا یې نه وي کړې، خو خپل مدیر ته وایي: (هو! خو ما هغه پیرودونکی قانع کړ چې فکر یې غلط دی) په خرڅلاو کې لویه موخه سودا کول دي، نه د بحثونو گټل.
په واده کې لویه موخه خوشالي، هوساینه او مینه ده، نه بحثونه گټل یا ورته ویل چې: (ما پورې هم خوله شته او درته ویلای شم...)
له کارکوونکو سره په کار کې لویه موخه د هغوی بالقوه وړتیاوې راڅرگندول دي، نه د هغوی وړې وړې تېروتنې نیول. له گاونډیانو سره په ژوند کې لویه موخه ملگري او متقابل درناوی دی، نه دا چې سپي یوه شپه غپلي او تا یې اوس د سپي په وژلو پسې راخیستې.
یو پوځي متل دی چې: په گټلي جنگ کې بایللی سنگر ښه دی، نه په بایللي جنگ کې گټلی سنگر.
**دوام لري...**

# اشنا د لوړو زده کړو موسسه

حميدالله حميدي




اشنا د لوړو زده کړو موسسه په دغه ډله کې یوه هغه ده، چې له لوړو زده کړو وزارت سره یې په همغږۍ خپلې چارې په ۲۰۱۴ ز کال کې د دوو پوهنځیو په درلودلو سره پیل کړې دي. اشنا د لوړو زده کړو موسسې په ۲۰۱۴ ز کال کې له خپل فعالیت سره سم یوازې دوه پوهنځي (حقوق او اقتصاد) درلودل چې هغه وخت یې په دغو پوهنځیو کې د محصلینو شمېر د سلو په شاوخوا کې و. د دې موسسې علمي مرستیال ډاکټر سیدالرحمن عمران وایي، د څلورو کلونو په تېرېدو سره اشنا د لوړو زده کړو موسسې خورا ډېر پرمختگ کړی دی. اوس د دې موسسې په هر پوهنځي کې د زده کوونکو شمېر ان سلگونو ته رسېږي چې په دې کې ښځینه او نارینه دواړه شامل دي.
د اشنا د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستیال وایي، ډېر ژر به په دې موسسه کې د کمپیوټر ساینس پوهنځی هم پر فعالیت پیل وکړي، ځکه لوړو زده کړو وزارت ورته منظوري ورکړې ده او لومړني کارونه یې پای ته رسېدلي دي. ښاغلی عمران وایي، په دې سره به یې د پوهنځیو شمېر دریو ته ورسېږي او د محصلینو شمېر به یې له دې هم لوړ شي. د ډاکټر سیدالرحمن عمران په خبره، د دوی ډېر محصلین هغه کسان دي چې په دولتي او خصوصي ادارو کې پر دندو بوخت دي، نو له همدې کبله په دوو ټایمونو (سهار وختي او ماښام)کې ټولگي لري. خو دا چې اوس یې د محصلینو او پوهنځیو شمېر مخ پر زیاتېدو دی، هڅه به وکړي چې د ورځې په اوږدو کې هم ټولگي برابر کړي.
اشنا د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال لږ تر لږه اویا استادان لري، چې په دې کې قراردادي او دایمي دواړه شامل دي. د دغه موسسې علمي مرستیال وایي، دوی یوازې هغه کسان د استاد په توگه گوماري، چې په اړونده برخه کې یې د زده کړو درجه تر لېسانس لوړه وي. په دې مانا چې ماسټري او یا هم دوکتورا ولري. ښاغلی عمران وایي، د استادانو یوه برخه یې تر دوکتورا پورې لوړې زده کړې لري او ډېره سلنه یې بیا ماسټران دي. د نوموړي په خبره، هغه پوهنځي چې د اشنا د لوړو زده کړو موسسه یې لري، د ښځینه‌وو شمېر پکې ډېر کم دی، چې هم دوکتورا او یا ماسټري ولري او هم بیا د استاد په توگه دنده اجرا کړي، نو له همدې کبله یې د ښځینه استادانو شمېر ډېر کم دی. دی وایي، ۹۵ سلنه استادان یې نارینه او پاتې ۵ سلنه یې بیا ښځینه دي.
اشنا د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستیال وایي، د ماسټرۍ پروگرام لپاره پوره تیاری لري او تر دې دمه یې په دې برخه کې ډېرې هڅې هم کړې دي، خو د ملي وحدت حکومت خصوصي پوهنتونونو ته د ماسټرۍ پروگرام جوازونه بند کړي دي. دی وایي، که لوړو زده کړو وزارت ورته د ماسټرۍ پروگرام جواز ورکړي، دوی په دې برخه کې پوره تیاری لري. ډاکټر عمران وایي، له دې سره په څنگ کې یې اوس له ځینو بهرنیو پوهنتونونو سره خبرې پیل کړې دي، څو وکولی شي پر مټ یې د ماسټرۍ پروگرام پیل کړي، داسې چې د زده کړو ځای به اشنا د لوړو زده کړو موسسه وي او د زده کړو سند به ورته هماغه اړوند بهرنی پوهنتون ورکوي. ښاغلی عمران وایي، په دې برخه کې یې له ځینو هندي پوهنتونونو سره لومړنۍ خبرې شوې دي.
د ډاکټر سیدالرحمن عمران په خبره، دوی په کور دننه او بهر له پوهنتونونو سره اړیکه لري، چې له بهرنیو پوهنتونونو څخه یو هم دگلاکل په نوم هندي پوهنتون دی چې دوی ور سره هوکړه لیک لري او له مخې یې د محصلینو تبادله کوي. دی وایي، په کور دننه هم له دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره غیر رسمي اړیکه لري، خو تر اوسه پورې یې په دې برخه کې د علمي اړیکو کومه رسمي هوکړه نه ده لاس لیک کړې. دی وایي، هڅه یې دا ده چې له بهرنیو پوهنتونونو سره په اړیکه کې شي، څو وکولی شي د هغوی له تجربو څخه گټه واخلي.
کتابتون چې نن سبا له کور او ښوونځي نیولې بیا تر پوهنتون پورې ضروي دی او هره گړۍ ورته اړتیا لیدل کېږي، نو اشنا د لوړو زده کړو موسسې په دې برخه کې خپل مسوولیت ادا کړی دی. د دې موسسې علمی مرستیال وایي، د محصلینو لپاره یې یو مجهز کتابتون برابر کړی چې اوسمهال پکې لږ تر لږه زر گونه ټوکه ډول ډول کتابونه موجود دي. ښاغلی عمران وایي، استادان او محصلین یې وخت ناوخت له کتابتون څخه د خپلې مطالعې او څېړنې لپاره په وړیا توگه گټه اخلي. ډاکټر سیدالرحمن عمران وایي، له دې سره په څنگ کې دوی یو انلاین کتابتون هم لري، چې ډېر کتابونه په کې شته او محصلین یې که په هر ځای کې وي، کول شي د دوی له انلاین کتابتون څخه گټه واخلي او خپلې ستونزې حل کړي. د دې موسسې د علمي مرستیال په خبره، هڅې یې پیل کړې، څو وکولی شي خپل کتابتون ډیجیټلي بڼې ته واړوي، چې له یوې خوا به یې ډېرو محصلینو ته د مطالعې او څېړنې زمینه برابره کړې وي او له بلې خوا به دوی په خپل کتابتون کې ډېر کتابونه ولري او تر ټولو ښه دا چې د کتابونو زړښت مخه به هم ور سره نیول شوې وي.
د اشنا د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستیال وایي، د محصلینو لپاره یې د زده کړو خورا ډېر امکانات او ښه اکاډمیک چاپېریال برابر کړی دی. د نوموړي په خبره، ټولگي یې ټول په مډرنو تدریسي وسایلو هغه چې اړتیا ورته لیدل کېږي، سمبال دي. ډاکټر عمران وایي، له دې سره په څنگ کې دوی وخت ناوخت خپل محصلین په اړوند برخه کې دولتي او یا هم د خصوصي سکټور ادارو ته بیایي، څو هلته عملي کار وکړي، تجربې ترلاسه کړي او هرڅه له نږدې وگوري، چې دغه څه له محصل سره د عملي زده کړو او له فراغت وروسته د دندې په پیدا کولو کې ډېره مرسته کوي.
ډېری هغه کسان چې له خصوصي پوهنتونونو او یا هم د لوړو زده کړو له موسسې فارغېږي، یوه اندېښنه ور سره د خپلو تحصیلي اسنادونو د تر لاسه کولو وي. د اشنا د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستیال وایي، د محصلینو د تحصیلي اسنادو هغه برخه چې په پوهنتون پورې اړه لري، دوی یې په اړه پر وخت اقدام کوي او ټول اړین توکي ورته برابروي، څو محصل وکړای شي له خپلو اسنادو څخه د دندې پیدا کولو او نورو برخو کې گټه واخلي، خو د ښاغلي عمران په خبره، د اسنادو هغه برخه چې په لوړو زده کړو وزارت پورې اړه لري، ښه ده چې دې برخې ته یې خپله د لوړو زده کړو وزارت چارواکي ځواب ووایي.
د دې موسسې علمي مرستیال وایي، دوی په خپله موسسه کې د کریکولم د تغیر یوه کمېټه لري، چې له مخې یې د کار مارکېټ ته په کتو، د خپلو محصلینو لپاره داسې یو کریکولم برابر وي، چې محصل وکړای شي له فراغت ورسته ډېر ژر د خپلې خوښې دنده پیدا کړي. اشنا د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو لپاره د کارموندنې او په ادارو کې د کار کولو هغه لارې چارې چې له مخې یې دوی په اړونده برخه کې لا پرمختگ کولی شي، سمینارونه او پروگرامونه دایروي. دوی په دې برخه کې له ډېرو ادارو سره هوکړه لیکونه لري، چې له مخې یې خپل محصلین یادو ادارو ته د کار کولو لپاره ور استوي، چې له دې ډلې یې ډېری په همدې ادارو کې په رسمي دنده هم گومارل کېږي.
د اشنا د لوړو زده کړو موسسې د علمي مرستیال په خبره، د موسسې د لا پرمختگ لپاره ډېر پلانونه لري چې له دې جملې څخه یو هم د پوهنځیو زیاتول دي. ډاکټر سیدالرحمن عمران وایي، دوی ټول هغه معیارونه پوره کړي چې له مخې یې باید نور پوهنځي هم ولري. دی وایي، لوړو زده کړو وزارت ته یې خپل غوښتنلیکونه سپارلي چې په هغې کې د ماسټرۍ پروگرام پیلول هم شامل دي. د ښاغلي عمران په خبره، کله چې د حکومت لخوا خصوصي پوهنتونونو ته د ماسټرۍ پروگرام د پیلېدو اجازه ورکړل شي، نو د دوی لومړۍ هڅه به دا وي، چې د ماسټرۍ پروگرام ولري او په دې برخه کې محصلین جذب کړي.
د اشنا د لوړو زده کړو موسسې مشرتابه وایي، هغه بورسونه چې د محصلینو لپاره له بهرنیو پوهنتونونو او هېوادونو څخه راځي، په هغه کې یوازې د دولتي پوهنتونونو محصلینو ته ونډه ورکول کېږي، په داسې حال کې چې په خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو په موسسو کې هم ډېر داسې محصلین شته چې د دغو بورسونو مستحق دي او وړتیا یې لري. دوی له دغه وزارت څخه غواړي، چې خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو ته هم په دغو بورسونو کې ونډه ورکړي. له دې سره په څنگ کې، د دې موسسې اداره له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، څو هغه استادان چې له دوی سره په تدریس بوخت دي، باید د دولتي پوهنتونونو د استادانو په څېر د علمي رتبو په بهیر کې شامل شي، څو دوی هم وکولی شي، د هېواد بچیانو ته د خدمت ترڅنگ په معنوي ډول هم ونازول شي او علمي رتبې ترلاسه کړي. ښاغلی عمران وایي، لوړو زده کړو وزارت ته پکار ده چې د خصوصي پوهنتونونو استادانو ته هم په کور دننه او بهر کې د هغوی د علمي سویې د لوړولو لپاره په هغو پروگرامونو کې چې دایرېږي، ونډه ورکړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٤,٦۰ |
| € | ۸٤,٦۰ |
| Rp. | ٥۳۷ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹٦,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

**Kam Air**

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

**flydubai**

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# علائم کبد چرب؛ هر مرحله از کبد چرب چه نشانه‌هایی دارد؟

**ترجمه: فایزکریمی**

کبد چرب نوعی بیماری است که به خاطر تجمع چربی بیش از حد یا استئاتوز در کبد به وجود می‌آید. در شروع این بیماری، علائم خاصی بروز نمی‌کند اما با پیشروی بیماری، اوضاع بیمار هم وخیم‌تر می‌شود. در برخی از موارد، بیماران مبتلا به کبد چرب غیرالکولی به تغییر چرب یا استئاتوز غیرالکولی دچار می‌شوند و پیشرفت این وضعیت هم بیماری‌ها و مشکلات دیگری مانند زخم، سیروز کبدی و عملکرد نامطلوب کبد را به همراه دارد.
کبد چرب با چاقی مفرط، فشار خون بالا، دیابت و کلسترول بالا در ارتباط است. ضمناً استئاتوز یا کبد چرب غیرالکولی در اثر مصرف الکول به وجود نمی‌آیند. در کشورهای مختلف دنیا بیماری و علائم کبد چرب رایج است. احتمال وقوع علائم کبد چرب در دوران بارداری هم وجود دارد. بیماری‌های مرتبط با مصرف الکول هم موجب وقوع سیروز می‌شوند اما کبد چرب غیرالکولی با این بیماری‌ها متفاوت است و شیوه تشخیص و درمانی جداگانه دارد. در ادامه با ما همراه باشید تا با بیماری کبد چرب، علائم و سطوح آن بیشتر آشنا شوید.

**علائم کبد چرب و سطوح مختلف آن**

کبد عضوی از بدن است که سموم بدن را دفع می‌کند. درصورتی‌که کبد از عهده این کار برنیاید، علائم مختلفی ظاهر خواهند شد. اگر بدن بیش از حد چربی تولید کند یا سوخت‌وساز چربی‌ها به درستی انجام نشود، این ماده در کبد جمع و ذخیره خواهد شد. تجمع بیش از حد چربی در کبد، فرد را به بیماری کبد چرب مبتلا می‌کند. تداوم تجمع چربی در بعضی از بیماران، استئاتوز و نهایتاً سیروز و نارسایی کبد را به دنبال خواهد داشت.
در بیشتر افراد، کبد چرب معمولاً بدون علامت خاصی است، اما بعضی از علائم عجیب آن به شرح زیر است:

**۱. خارش پوست**

معمولاً خارش پوست تا زمانی که آزردگی و تحریک پوستی خاصی به وجود نیامده است، چندان جدی گرفته نمی‌شود، اما باید بدانید که احتمالاً علت خارش پوست، وجود صفرا در خون باشد. وجود صفرا در خون هم ناشی از تخریب و آسیب‌دیدگی کبد است. زمانی که مجرای صفرا مسدود باشد، صفرا به جریان خون وارد می‌شود. در نتیجه این ماده زیر پوست قرار می‌گیرد و خارش به وجود می‌آورد.

**۲. آنژیوم عنکبوتی**

آنژیوم عنکبوتی یکی دیگر از علائم کبد چرب است. در این حالت، موی رگ‌های عنکبوتی‌شکلی زیر پوست ظاهر می‌شوند. علت به وجود آمدن این موی رگ‌ها، افزایش میزان استروجن در بدن است و نشان می‌دهد که کبد به درستی کار نمی‌کند و سوخت‌وساز هورمون‌ها به درستی انجام نمی‌شود. رگ‌های مذکور به دلیل بزرگ شدن سرخ رگچه ایجاد می‌شوند. سرخ رگچه‌ها رگ‌های خونی با قطری کم هستند که سرخ رگ‌ها را به موی رگ‌ها وصل می‌کنند.

**۳. کبودی و خون‌ریزی**

اگر بعد از هر صدمه‌ای که به بدن‌تان وارد می‌شود به راحتی دچار کبودی و خون‌ریزی می‌شوید، احتمالاً کبدتان به



درستی کار نمی‌کند. یعنی پروتین‌هایی که برای انعقاد خون نیاز دارید دیگر به اندازه کافی تولید نمی‌شوند.

**۴. بوی بد دهان**

بوی بد دهان نشانه بیماری‌ها و مشکلات مختلفی مانند سینوزیت و بیماری های لثه است. علاوه بر اینها، بوی بد دهان می‌تواند یکی از علائم کبد چرب هم باشد. بوی دهان ناشی از نارسایی کبدی در بیماران مبتلا به سیروز کبدی با عنوان فتور هپاتیکوس هم شناخته می‌شود. این عارضه باعث ایجاد بویی شبیه کپک‌زدگی است که به واسطه وجود سطح بالای متیل‌دی‌سولفید در خون ایجاد می‌شود.

**۵. سرخی کف دست**

سرخی، خارش و سوزش کف دست‌ها معروف به اریتمای کف دست هم یکی از علائم کبد چرب است و به خاطر غیرعادی شدن سطح هورمون‌ها در خون به وجود می‌آید.

**٦. وجود لکه های پوستی**

اگر کبد به درستی فعالیت نکند، روی پوست لک‌های قهوه‌ای رنگی به وجود می‌آید. علت این است که استروجن در بدن افزایش می‌یابد و آنزیمی حاوی مس به نام تیروزیناز در بدن شروع به رنگ‌ریزه‌های پوستی (ملانین) می‌کند. در نتیجه روی پوست بدن لکه‌ها ایجاد می‌شود.

**۷. کاهش تمرکز**

یکی از علائم کبد چرب هم از دست رفتن تمرکز است. پس اگر اخیراً مدام حواس‌تان پرت می‌شود و تمرکز کافی ندارید، شاید باید به وضعیت کبدتان بیشتر رسیدگی کنید. سم‌زدایی و تأمین انرژی بدن دو نمونه از مهم‌ترین وظایف کبد است. حال اگر میزان سموم موجود در خون‌تان به واسطه عملکرد نامناسب کبد بیشتر از حد قابل‌تحمل شود، عملکرد مغزتان هم تحت الشعاع قرار خواهد گرفت. وقتی سوخت و ساز انرژی در بدن به درستی انجام نشود، خستگی و کاهش تمرکز به وجود می‌آید. شکل حاد این مشکل، فراموشی و رفتن به اغما است.

**سطوح بیماری کبد چرب**

**۱. کبد چرب**

بیش از ۵ تا ۱۰ درصد از وزن کبد را چربی تشکیل می‌دهد، اما اگر میزان چربی از این مقدار بیشتر شود، کبد چرب یا کبد چرب غیرالکولی به وجود می‌آید. ابتلا به این وضعیت چندان مطلوب نیست، اما شدت و وخامت آن هم به‌قدری نیست که علائم یا مشکلاتی خاص را به همراه داشته باشد. بیشتر افرادی که مبتلا به کبد چرب در این سطح هستند، اصلاً متوجه وجود این مشکل در بدن‌شان نمی‌شوند و معمولاً زمانی از مشکل خود باخبر می‌شوند که به‌خاطر تشخیص مشکلات دیگر، مجبور به انجام آزمایش‌هایی شده و در حین تشخیص بیماری‌ها و مشکلات دیگر از وجود این عارضه هم باخبر می‌شوند. در بیشتر افراد، کبد چرب در همین سطح باقی می‌ماند و پیشروی بیماری رخ نمی‌دهد.

**۲. استئاتوز غیرالکولی**

اگر تجمع چربی در کبد ادامه پیدا کند و این عضو از بدن ملتهب شود، استئاتوز غیرالکولی رخ می‌دهد. حدود ۷۵ درصد بیماران دچار التهاب کبد و هپاتومگالی می‌شوند. علائم این بیماری به شرح زیر است:
کاهش وزن؛
حالت تهوع؛
کاهش اشتها؛
ناراحتی و التهاب در قسمت بالای شکم ؛
خستگی و کوفتگی به شکل ضعف عضلات و کمبود انرژی.
علائم این مشکل احتمالاً نامشخص هستند و با بیماری‌ها و مشکلات دیگر هم‌پوشانی دارند. برای تشخیص استئاتوز غیرالکولی از بیماری‌ها و مشکلات دیگر باید آزمایش‌هایی انجام شود. دانشمندان دقیقاً نمی‌دانند که چرا بعضی از افراد بیشتر در معرض ابتلا به این بیماری هستند.

**۳. سیروز و نارسایی کبدی**

پیشروی استئاتوز غیرالکولی در حدود ۱۰ تا ۲۵ درصد مبتلایان به سیروز و نارسایی کبدی می‌انجامد. علائم این مشکلات به شرح زیر هستند:
ضعف و خستگی؛
حالت تهوع، استفراغ و اسهال؛
درد و تورم شکمی؛
زردی پوست و چشم موسوم به یرقان؛
گیجی، نبود تمرکز، از دست رفتن حافظه و توهم؛
خارش پوست؛
خونریزی و کبودی آسان بدن.

**دلایل و عوامل ایجاد بیماری‌های کبدی**

علت و چگونگی ابتلا به کبد چرب دقیقاً مشخص نیست. زمانی که میزان چربی جمع‌شده در کبد زیاد از حد باشد یا بدن به درستی چربی را نسوزاند، این بیماری به وقوع می‌پیوندد. یکی از عوامل خطری که باعث بروز کبد چرب می‌شود، چاقی مفرط است. حدود ۷۰ درصد از افراد چاق به کبد چرب دچار هستند؛ درحالی‌که تنها ۱۰ تا ۱۵ درصد افراد با وزن معمولی به این مشکل گرفتار می‌شوند. فارغ از چاقی و اضافه‌وزن، افرادی که دارای چربی شکمی عمیق یعنی چربی‌هایی در احشای خود هستند، با احتمال قوی‌تری به کبد چرب مبتلا می‌شوند. از عوامل خطرناک دیگری که در ابتلا به کبد چرب دخیل هستند، می‌توان به موارد زیر اشاره کرد:
انواع دیابت؛
کلسترول یا چربی بالای خون؛
فشار خون بالا؛
چربی خون بالا.
افرادی که مبتلا به نشانگان (سندرم) سوخت و سازی هستند، بیشتر در معرض ابتلا به کبد چرب قرار دارند. افراد مبتلا به این سندرم تعدادی از نشانه‌هایی را که در قسمت بالا اشاره شد، دارا هستند.
حدود ۴۰ تا ۸۰ درصد از افراد مبتلا به دیابت نوع دوم به کبد چرب غیرالکولی دچار می‌شوند. محققان دریافته‌اند که بیماری کبد چرب با ابتلا به بیماری‌های قلبی-عروقی (CVD) و بیماری‌های کبدی مزمن (CKD) ارتباطاتی دارد. این یعنی، افراد مبتلا به کبد چرب بیشتر از دیگران در خطر ابتلا به بیماری‌های قلبی و دیابت هستند.
هر چند میان چاقی مفرط و کبد چرب ارتباطاتی وجود دارد، اما بعضی از افراد با وزن عادی هم به کبد چرب مبتلا می‌شوند. علت وقوع کبد چرب در بدن این افراد می‌تواند به خاطر موارد زیر باشد:
عوامل جنتیکی؛
سگرت کشیدن؛
بالا رفتن سن؛
مصرف برخی از داروها؛
کاهش وزن سریع؛
عفونت‌هایی مانند هپاتیت؛
قرار گرفتن در معرض سموم.
با وجود این، محققان معتقدند که عامل اصلی ابتلا به کبد چرب، اضافه‌وزن و چاقی است. کبد چرب غیرالکولی، شایع‌ترین بیماری کبدی در کودکان است. براساس تحقیقاتی که در سال ۲۰۱٦ م انجام شده است، حدود ۱۰ تا ۲۰ درصد از کودکان چاق و ۵۰ تا ۸۰ درصد از کودکان چاق به کبد چرب دچار هستند.
دانشمندان پیش‌بینی می‌کنند طی ده سال آینده، کبد چرب عامل اصلی بیماری‌ها و مشکلات کبدی، نارسایی و پیوند کبد در کودکان و بزرگسالان در غرب خواهد بود. حدود ۲۵ درصد از کودکان مبتلا به کبد چرب در طی ده سال به بیماری سیروز هم مبتلا می‌شوند و در میان آنها، کودکان چاق بیشتر در معرض خطر پیشروی بیماری هستند.

**تشخیص بیماری کبد چرب**

در سطوح و مراحل نخست بیماری کبد چرب معمولاً علائم خاصی وجود ندارد. به همین خاطر این مشکل عموماً در حین بررسی مشکلی دیگر یا طی بررسی نتیجه آزمایش خون شناسایی می‌شود. اگر داکتر نسبت به چرب بودن کبد بیمار مشکوک شود با معاینه شکم در پی بررسی التهاب در این ناحیه برمی‌آید. سپس از فرد درباره رژیم غذایی، سبک زندگی، داروها و مکمل‌های مصرفی و استفاده از الکول سؤالاتی می‌کند.
اگر آزمایش‌ها حاکی از تخریب یا تورم کبد باشند، داکتر موارد و احتمالات دیگر مانند بیماری‌های الکولی کبد را هم بررسی خواهد کرد.

**درمان و مدیریت بیماری کبد چرب**

درمان ویژه‌ای برای بیماری کبد چرب وجود ندارد، اما ایجاد تغییراتی در سبک زندگی و کاهش و متعادل نگه داشتن وزن بدن می‌تواند مانع از ابتلا به این بیماری یا پیشگیری از پیشرفت آن شوند.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




یکشنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې ۲۱مه | د ۲۰۱۹ د فبروري لسمه | دویم کال | ۳۳۲مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۱۷ | ۱۸ | ۱۵ | ۲۰ | ۱۷ |
| -۶ | ٤ | ٤ | ٦ | ۷ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۵ | لمر ختل ۰٦:۵۸ | ماسپښین ۱۲:۲۵ | مازیګر ۰٤:۱۳ | ماښام ۰۵:۵۱ | ماخوستن ۰۷:۱٤

## نړۍ



# سعودي: محمد بن سلمان د جمال خاشقجي د وژلو امر نه دی ورکړی

۳

## مادورو: اروپايي ټولنه په وینزویلا کې د روانو حالاتو پر وړاندې کنه ده



د وینزویلا ولسمشر له دې کبله په اروپايي ټولنې نیوکې کړې دي چې د نوموړي په خبره، د دغه هېواد په روانو حالاتو یې چوپتیا غوره کړې ده.

نوموړي دغه راز یوځل بیا ټینګار کړی چې ډېر ژر به په وینزویلا کې ټاکنو ته لاره هواره کړي.

د راپورونو له مخې، د وینزویلا ولسمشر نېکولاس مادورو د دغه هېواد په پلازمېنه کې د خپلو پلویانو غونډې ته د وینا پرمهال ویلي، دوی تیار دي چې له وخته مخکې ټاکنو ته لاره هواره کړي.

مادورو دغه راز خبریالانو ته هم ویلي چې زه به له وخته مخکې د ټاکنو وړاندیز ملي شورا ته وړاندې کړم او زه د دې ملاتړ کوم چې په هېواد کې روان تاوتریخوالی پای ته ورسېږي او خلک له سوله ییزې لارې خپل نوی مشر وټاکي.

دا په داسې حال کې ده چې په دغه هېواد کې په دې وروستیو کې د واک پر سر لاریونونو زور اخیستی او په دې وروستیو کې دغه لاریونونه پر تاوتریخوالي اوښتي او ډېرو کسانو ته یې مرګ ژوبله اوښتې.

دغه تاوتریخوالي هغه مهال زور واخیست چې د دغه هېواد د اپوزېسیون مشر خوان ګوایدو ځان د وینزویلا موقت ولسمشر اعلان کړ چې د امریکا په ګډون، د ځینو نورو اروپايي هېوادونو له لوري هم په رسمیت وپېژندل شو.

مادورو دغه راز په اروپايي ټولنې هم له دې کبله توندې نیوکې کړې چې په دغه هېواد کې یې پر روانو حالاتو چوپتیا غوره کړې ده.

نوموړي په دې اړه ویلي: «اروپايي ټولنه د هغه څه پر وړاندې کنه ده چې په وینزویلا کې تېرېږي».

## راپورونه: ټرمپ او کیم جون اونګ به د روانې میاشتې په وروستیو کې دویم ځل سره ویني



د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي، د شمالي کوریا له مشر کېم جونګ اون سره به د روان کال د فبرورۍ په ۲۷مه او ۲۸مه د ویتنام په پلازمېنه، هانوي کې وګوري.

ټرمپ پر خپل ټوېټر لیکلي چې زما استازي له کېم جونګ اون سره د دویم ځل لیدو د ورځې او ساعت پر سر، له بریالۍ ناستې وروسته له شمالي کوریا رخصت شوي او ټاکل شوې چې د روانې فبرورۍ په وروستیو کې په ویتنام کې دغه لیدنه وشي.

ټرمپ زیاته کړې چې هغه د شمالي کوریا له مشر سره د لیدو او د سولې خبرو په اړه په تمه دی.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا او شمالي کوریا د مشرانو لومړنۍ لیدنه، تېر زېږدیز کال جون میاشت په سنګاپور کې وشوه چې یاده لیدنه دې دواړو هېوادونو په دوو اړخیزو اړیکو کې بې مخینې او تاریخي وه.

په ورته وخت کې ټرمپ په یوه بل ټوېټ کې لیکلي: «د کېم جونګ اون تر مشرۍ لاندې شمالي کوریا به په یوه ستر اقتصادي ځواک بدله شي او شونې ده چې هغه ځینې خلک حیران کړي، خو زما د حیرانتیا لامل به نه شي، ځکه چې هغه مې پېژندلی او د هغه پر توانايۍ خبر یم».

ټرمپ ویلي، شمالي کوریا به په یوه بل توغوندي بدله شي، خو د نوموړي په خبره چې دغه توغوندی به اقتصادي وي، نه نظامي.

## دانش: در تعدیل قانون انتخابات همه توافق دارند



معاون دوم رئیس جمهور می‌گوید که در اصلاحات انتخاباتی و تعدیل قانون انتخابات، همه جوانب دخیل توافق کامل دارند.

سرور دانش معاون دوم رئیس جمهور، این سخنان را دیروز در دیدار با کَرن دیکر معاون سفیر امریکا در کابل، مطرح کرده است.

این درحالیست که دو روز پیش درنشستی مشورتی که در مورد پیش‌نویس طرح تعدیل، ایزاد و حذف برخی مواد از قانون انتخابات در ارگ برگزار گردید، شماری از نامزدان و سران و نماینده‌گان برخی احزاب سیاسی حضور داشتند.

درخبرنامه دفتر مطبوعاتی معاون دوم ریاست جمهوری آمده است که سرور دانش در این دیدار با ذکر اینکه اصلاحات انتخاباتی و تعدیل قانون انتخابات مورد توافق همه است، افزوده است: «امکان دارد در برخی موارد اختلاف نظر میان طرف‌ها وجود داشته باشد، که پس از برگزاری نشست‌های مشورتی و گفت‌وگو در مورد آن تصمیم گیری خواهد شد».

در ادامۀ خبرنامه افزوده شده است که معاون سفیر امریکا، ضمن استقبال از اعمال اصلاحات انتخاباتی، اظهار امیدواری کرده است که با تطبیق این اصلاحات، پروسه انتخابات به گونه شفاف و سراسری برگزار شود.

این در حالی است که شورای تشریک مساعی نامزدان احتمالی انتخابات ریاست جمهوری، طرح تعدیل حکومت را ناقص و زمینه‌ساز تقلب خوانده است.


شورای تشریک مساعی نامزدان انتخابات ریاست جمهوری گفته است که در طرح پیشنهادی ارگ، راه حل قانع کننده و قابل تطبیق با توجه به تجربه‌ها و مشکلات حقوقی، فنی و مدیریتی انتخابات‌های گذشته در نظر گرفته نشده است.

این شورا در سیزدهم ماه جاری، طرحی را در خصوص اصلاحات انتخاباتی به ریاست جمهوری سپرده و در آن تأکید کرده بود که هر نوع اصلاحات در قانون و نهادهای انتخاباتی، باید در مشورت با نامزدان انتخابات ریاست جمهوری اعمال شود.

تلاش‌ها برای اصلاحات انتخاباتی، در حالی صورت می‌گیرد که قرار است انتخابات ریاست جمهوری در ۲۹ سرطان سال آینده برگزار شود.

## ژوند

## د وزن په زیاتوالي کې د قهوې رول!



مخکنیو څېړنو ښودلې وه چې ډېره قهوه څښل د وزن د کموالي لامل کېږي، خو اوس روغتیاپالان وايي، هغه کسان چې د ورځې پنځه پیالې قهوه څښي، د وزن له زیاتوالي سره سره یې د شکرې پر ناروغۍ هم اخته کولی شي.

د قهوې په اړه بېلابېل نظرونه شته؛ ځینې وايي، هغو کسانو چې د وزن د کموالي لپاره یې غذايي رژیم نیولی دی، باید قهوه هم وڅښي؛ معنا دا چې د قهوې څښل وزن کموي، خو وروستۍ څېړنې بیا وايي، په زیاته اندازه د قهوې څښل د وزن د زیاتوالي لامل کېږي.

په اصل کې قهوه په دواړو حالتونو کې خپل اغېز لري، خو اصلي خبره د قهوې په ډول کې ده چې په څه ډول تیاره شي او ترې ګټه واخیستل شي.

زه خپله د ډېرې قهوې څښلو پلوی یم، خو اوس اوس مې په ذهن کې دا پوښتنه را پیدا شوې چې ایا قهوه په رښتیا هم وزن زیاتوي؟

کله چې غواړئ، د قهوې ګټې او تاوانونه وڅېړئ، یو شی باید هېر نه کړئ؛ هغه دا چې قهو هم یو ډول اعتیاد لري؛ ځکه هغه کسان چې د یو څه وخت لپاره قهوه وڅښي، بیا یې نو بې له قهوې ژوند سخت وي.

## هواوې شرکت p۳۰ موبایل بازار ته وړاندې کوي




په هالنډ کې د هواوې شرکت وايي، د روان زېږدیز کال په وروستیو کې غواړي p۳۰ موبایل بازار ته وړاندې کړي. دا په داسې حال کې ده چې سامسونګ، اېل جي او سوني شرکتونه بیا غواړي د روانې فبرورۍ په وروستیو کې د موبایل په برخه کې خپل تر ټولو مخکښ تولیدات معرفي کړي. هواوې شرکت د خپل دغه برنډ په اړه تر اوسه اضافي معلومات نه دي خپاره کړي، خو خپلو مینوالو ته یې ویلي، چې یوازې د مارچ میاشتې تر وروستیو پورې دې په تمه شي او په داسې محصول به یې ونازوي، چې په اړه یې تر اوسه هېڅ فکر نه وي کړی.

د هواوې شرکت د برنډ ډېری کاروونکي بیا وايي، کېدای شي په نوي برنډ کې دومره بدلونونه نه وي راغلي، ځکه دغه شرکت تېر کال خپل p۲۰موبایل بازار ته وړاندې کړ. په دغه شرکت کې ځینو پټو سرچینو ویلي، چې د P۳۰ یوه ځانګړنه به دا وي، چې مخپانه به یې له پخوانیو موبایلونو څخه یوڅه لویه وي او داسې یوه کامره به لري، چې د دغه برنډ کاروونکو تر اوسه پورې نه وي کارولې. د ټکنالوژۍ دغه شرکتونه هڅه کوي چې هر کال په یوه نوي ښه موبایلونه بازار ته وړاندې کړي او خلک ور جذب کړي.